مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوڅ مرادزی

۲۰۲۳ / ۰۵ / ۱۴

# خلاصونلار

د خلاصون لار را ته نه ښکارې نږدې کې
چې ولسونه لا ويده وي په غرمې کې
زه د ولس دغسې درونډ خوب ته حيران يم
نه د ورځې په خوب موړ شو نه په شپې کې
داسې خوب چې افغانان پرې معتاد شوي
نشته چرسو او افينو په نيشې کې
دا متل د خوبولو په باب سم کړي
نر کټی به زيږوي تل په پادې کې[١]
که جګړه، که تشدد دی تباهي ده
سر بايللی دی ولسونو په جګړې کې
تربګني او ورور وژنه يو ناورين دی
چې قوت، نيرو مو وژني په ريښې کې
د خلاصون لارهم زاری، دعا کې نشته
نه توبو، نه ننواتو نه سجدې کې
استسقا لمونځ به باران کله ونه کړي
چې وريځ نه وي د اسمان په کنارې کې
دا وطن به وچکالي ځپي تر هغه
چې اوبخور د خلکو نه وي ارادې کې
عبادت او لمونځ يوازې نفس پاکې ده
اغيز نه لري په کار، پلان نقشې کې
خدای د هغه ولس د حال بدلون کې نه دی
چې ولس خپله د بدلون نه وي قصې کې
نه تقدير او بخت ته ناسته لري ګټه
نه فايده رسي اسمان نه په ګيلې کې
بې تدبيره ولس پر سر وريږي کاڼي
کاڼي شمېرې دوی، د بخت په نقيصې کې
که جګړ دی که سيلاب دی که توپان دی
زيان يې ډېر وي د ويده ولس په حصې کې
نه په کوډو او جادو شي ولس نيکبخته
نه ښېګڼه شته د غوث او پير فتوې کې
که ولس خپله متکې پخپل مټ نه شي



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

ګټه نشته هيڅ پرديو ته اسرې کې
چې پخپل مټ او بازو خلک ماړه نه شي
نه مړېږي د زکات، خيرات پيسي کې
**د خلاصونلار په تدبير، پوهه کې نغښتې**
**نه په بخت، نه په ګېلې نه په توبې کې**
هغه ولس چې له تدبيره برخمن وي
بريالی به وي نړۍ او زمانې کې
بې له پوهې خلاصون نشته بله لار کې
ما وهلې ډېر فکرونه دي په دې کې

**يادوونه:**

(۱) نر کټی زيږول: يوه ولسي قصه ده. ويل کيږي چې دوه تنو ميښې پېرودلې وې او د کور به لور سره ملګري روان ول. کور ته لار اوږده وه او شپه پرې راغله. دواړو ميښې وتړلې او ويده شول. د شپې دواړه مېښې لنګې شوې، يو ميښکټي(نر) او بلې ميښکټۍ(ښځه) وزيږوله. سهار وختي يو تن تر بل مخکې له خوبه پاڅيد، ګوري چې ميښې يې نرکټی زيږولی. کله چې نرکټی لوی شي، سندا يې بولي او طبعاً شېدې نه کوي او نور مېښکټي هم نه زيږوي، نو د هغه بل تن د مېښکټۍ (ښځه) سره يې بدل کړ چې د هغه مېښې زيږولې وه. څنګه چې هغه تن ويده وو، نو دا تاوان څکه ورته ورسيد.

**نوټ:**

په دې شعر کې مهم لغتونه: تقدير، بخت، ګيله، دعا، توبه، فتوی، سجده، خيرات، اسره، جادو، کوډې، خوب، چرس، افيون، جګړه، تشدد، وروروژنه او وچکالي ده. همدارنګه مټ او بازو، اراده، تدبير، پوهه، پلان، ښېګڼه، تغييراو بدلون دی.
۲۰۲۳ کال د مې ۱۲ مه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ